Social Science AcademicJournal

لېد د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# په نشه يي توکو د روږدو او سالمو وګړو د حافظې فعالیتونو پرتلنه

حکیم خان حقیار[١]* مطیع الله مومند[٢] محمد اسحق شهید زوی[٣]

اروا پوهنې او پیداګوژي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، ننګرهار-افغانستان

ایمیل: hakimhaqyar@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۸/۱۵ ، منل سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه: ۲۸-۳۷

**لنډیز**

روږدیتوب یو جدي ټولنیز، اقتصادي او روغتیایي بحران دی چې پر رواني او فزیکي فعالیتونو ژوري اغېزې لري. د دې څېړنې موخه په ننګرهار ولایت کې د نشه‌يي توکو پر روږدو او سالمو وګړو ترمنځ د حافظې د فعالیتونو پرتله کول دي. څېړنه توصیفي - پرتله‌ییزه ده او معلومات د پوښتنلیک له لارې راټول شوي. نمونه کې ۸۱ روږدي کسان د ننګرهار ۱۷۰ بستریز روغتون او ۸۱ سالم محصلین د ننګرهار پوهنتون شامل دي. معلومات د SPSS 24 په وسیله د توصیفي احصایې او د منځنیو پرتله ازموینو له لارې تحلیل شوي. پایلې ښیي چې روږدي کسان په لنډمهاله، اوږدمهاله او راتلونکې حافظه کې د سالمو په پرتله معنا لرونکی کمښت لري. څېړنه د درملنې او عامه پوهاوي پیاوړتیا سپارښتنه کوي.

**کلیدي کلمې:** نشه يي توکي، حافظه، روږدي، سالم.

# Comparison of memory functions of drug addicts and healthy individuals

**Hakim Khan Haqyar[1] *, Matiullah Momand [2] Mohammad Ishaq Shaheed Zooy[3]**

Department of Psychology and Pedagogy, Faculty of Education, Nangarhar University

Email: hakimhaqyar@gmail.com

**Abstract**

Addiction is a serious social, economic, and health crisis that deeply affects psychological and physical functioning. This study aimed to compare memory performance between drug addicts and healthy individuals in Nangarhar Province. The research employed a descriptive-comparative design, and data were collected through a questionnaire. The sample included 81 addicted individuals from the 170-bed Nangarhar Hospital and 81 healthy students from Nangarhar University. Data were analyzed using SPSS 24 through descriptive statistics and mean comparison tests. The findings indicate that addicted individuals show significant deficits in short-term, long-term, and prospective memory compared to healthy participants. The study recommends strengthening treatment, prevention, and public awareness programs.

**Keywords**: Drugs, memory, addicted and normal

## سریزه

روږدیتوب یو جسماني، رواني، ټولنیز او همدا راز یوه معنوي ناروغي ده (کلانتر، ۲۰۰۶). روږدیتوب د ټولنیزو ستونزو یو له اساسي برخو څخه شمیرل کیږي چې په میلیونونو زړونه يي ویجاړ او د یو هیواد

د ملي عایداتو لویه برخه د روږدیتوب د درملنې او د هغه څخه د رامنځته شوي ستونزو د حل لپاره په مصرف رسیږي. هره ورځ ډیرې افراد د مخدره موادو په روږدیتوب باندې اخته کیږي چې د مخدره موادو څخه د راپورته شوي جسماني، ټولنیز، فرهنګي، او اقتصادي زیانونو سره مخ کیږي (خلات باري، ۲۰۱۱). مخدره مواد د مغز او حافظې په کړنو منفي اغیز کوي او د ډیرې ځوانانو ژوند د ننګونو سره مخ کوي (واندنر او ملګري، ۲۰۲۲). حافظه د ذهن یوه برخه ده چې په مهارتونو او فعالیتونو کې د انسان لپاره خورا مهمه ده، ځکه چې حافظه د ژوند بې شمیره پدیدې او پیښې په یوه واحد او منسجم ډول سره یوځای کوي. د حافظې اغیزمن رول ته په کتو، د حافظې په فعالیت کې هر ډول اختلال کولی شي د افرادو په نورو فعالیتونو کې هم اختلال رامنځته کړي (لیرا او ملګري، ۲۰۲۳). یو له هغو عواملو څخه چې د عمومي حافظې او د حافظې د نورو بېلابېلو ډولونو د اختلال په رامنځته کولو کې اغېزمن رول لري، په مخدره موادو اعتیاد دی (الندکویست، ۲۰۰۵) ویتاکر[1] او همکارانو، ۲۰۲۲څېړنو څرګنده کړې ده چې د نشه یې توکو کارونکې د اوږدمهاله حافظې په برخه کې د کلیماتوپه کود کولو اوهمدارنګه د کلمو په یادولو کې ستونزې لري او په پاملرنه او سختو دندو کې کمزورې فعالیت لري. نورې څېړنې چې دنشه یې توکو مصرف په اړه د پیژندیزو او نیوروسایکولوژیکې یا عصبي ارواپوهنې د پایلو په اړه شوې، ښودلې چې په نشه یې توکود روږدو وګړو پیژندیز فعالیت د هغوی د عمر او تعلیمي سطحې په پرتله د توقع څخه ټیټه ده. همدارنګه، په لنډمهاله حافظه او پاملرنه کې د نواقصو نښې ښودلې شوې دي (کاتانو او ملګري، ۲۰۲۳). د چرسو مصرف د داخلي کنټرول په کموالی اود پیژندیزو اختلالاتو لامل کیږي، په ځانګړې توګه په توجه او حافظه کې، د نیشي د مکرر مصرف اثرات کولای شي د پیژندیزو اختلالاتو دایمي حالتونه رامنځته کړي(ډویډ او ملګري[2]، ۲۰۲۳). د نوئواوملګرو (۲۰۱۳) په څیړنه کې چې د اکستاسي مصرف کوونکو باندې ترسره شوي ښیي چې دغه وګړي نسبت د کنټرول ګروپ او دچرسو مصرف کوونکو په پرتله د حافظې او زده کړې په برخه کې د پام وړستونزې لري. همدارنګه، پر نشه یي توکو روږدي افراد د حافظې څرګند اختلالاتو درلودنکې دي. لتوالا (۲۰۱۱). په خپله څیړنه کې څرګندوي چې د حافظې اوزده کړې ترمنځ دنشه یي توکود مصرف په برخه کې د پام وړ اړیکه شته، او هغه کسان چې تریاک او هروئین مصرفوي، په اوږدمهاله حافظه کې ډیرې

[1] Whittaker
[2] David

ستونزې لري سولوویچ اوباتیستی (۲۰۰۸) په یوه څېړنه کې ښودلي چې د نشه يي توکو مصرف کوونکي په حافظه کې د معلوماتو کوډ کولو ، ذخیره کولو ، بیا راټولولوپه برخه  کې اختلالات لری.  ترونسون او تیلور (۲۰۱۳) موندنې ښي چې د نشه يي توکو مصرف کوونکي په لنډمهاله حافظه کې اختلالات لري. حافظه د وخت پر اساس دوه ډولونه (را تلونکې مهاله او تیر مهاله حافظه) لري. راتلونکې مهاله حافظه کې د هغو کارونو لپاره پلان جوړول چې په راتلونکي کې يې ترسره کول غواړو ، په مناسب وخت کې د زده کړل شویو وړتیاوو کارول او د مخکې پلان شویو کارونو یادول شامل دي د هرډول نشه يې توکو څخه اسنفاده کولې شې د راتلونکې مهاله حافظې په فعالیتونو کې اختلال را منځته کړي او پدې توګه خلک نه شې کولاې  خپل پلانونه او څیزونه چې دوي زده کړي وي په راتلونکې مهال کې پلي کړي ، څېړنې ښيې چې د نشه يې توکو څخه دومداره استفاده راتلونکې مهاله حافظه تر ننګونې لاندې راوستلې شي اود  ورځنې چارو د مختل کیدو باعث ګرځي په ځانګړي ډول هغه فعالیتونه او زده کړل شوي مطالب چې په راتلونکې مهال کې د عملي کیدو وړ دي ((موري او امایا ، ۲۰۲۴)

. د راتلونکې مهاله حافظې په مقابل کې تیرمهاله حافظه موجوده ده چې موږ سره  د خلکو ، پیښو او هغو کلمو چې په تیرو وختونو کې ورسره مخ شوي یو مرسته کوي. تیر یاد ونه د تیرمهاله  حافظې له مهمو ځانګړتیاوو څخه یوه خانګړنه ده چې مونږ سره د هغه اشیاوو او پیښو په اړه  چې مخکې ورسره مخ شوي یو په یاد راوړلو کې مرسته کوي او دنشه يې توکو څخه استفاده کولي شي د حافظې د غه برخه د ضعف او نیمګړتیا سره مخ کړي چې پدې ډول سره خلک د تیر شویو پیښو او پدیدو په اړه خپل پیژندنه له لاسه ورکوي ، څیړنې ښيې چې د چرسو او هیرویینو څکل تیرمهاله حافظه تر اغیز لاندې راولې او د حافظې دغه برخه خپل فعالیت له لاسه ورکوي او نشې کولې هغه پیښې او یادونه چې مخکې تیرشوی وي په یاد راوړي(لیرا او ملګري ، ۲۰۲۳)

. د عبدالمحمدی او ملګري (۱۳۹۸) موندنې ښیيي چې د سالمو افرادو او روږدو افرادو د حافظې فعالیت  په برخه کې د پام وړ معنا داره اړیکه په ګوته کړي. علیپوراو ملګرو (۱۳۹۴)  څیړنې پایلې ښيي چې هغه ډله افراد چې نشه يي توکې کاروي او د میتاډون کارونې په جریان کې د درملنې په موخه ساتل کیده د  دوي په پیژندیزه برخه کې نسبت روغو وګړو ته  ډیر اختلالات شتون لرلو چې د هغې له جملې څخه په فعاله حاقظه او د اوریدنې په حافظه کې  ډیری ګډوډي تر لاسه شوي. د نشه يي توکو استعمال په ځوانانو کې د مختلفو ذهني او فزیکي ستونزو لامل کیږي چې په پایله کې د حافظې ضعف ، ذهني کمزورتیا ، او د ژوند نورو برخو کې د ستونزو سره مخ کیږې ، مګر ډیری څیړنې چې د نشه يي توکو په

پرېښودلو سره د حافظې او ذهني فعالیت د ښه والي په اړه ترسره شوي مثبتې پایلې په لاس راغلي(ټیان او ملګري، ۲۰۲۲).

دا چې ذکر شوي څېړنې او دې ته ورته نورې څېړنې په نورو هېوادونو کې ترسره شوي اوپه افغاني ټولنه کې د حافظې فعالیتونو پرتلنې ترعنوان لاندې داسې کومه څېړنه ترلاسه نه شوه نو په دې برخه کې د یوې تشې احساس کېده د دې څېړنې په ترسره کولو سره تر یوې اندازې پورې دغې ستونزې ته ځواب وړاندې شوی.

دا څېړنه د دې لپاره مهمه ده چې حافظه د افرادو په ورځني ژوند، زده کړه، او ټولنیزو اړیکو کې مهم رول لوبوي. د مخدره موادو دوامداره کارونه نه یوازې حافظه زیانمنوي بلکې د افرادو رواني او ټولنیز ژوند هم له جدي ننګونو سره مخ کوي. له همدې امله، د دې څېړنې موخه دا ده چې د روږدو کسانو د حافظې فعالیتونه د سالمو کسانو سره پرتله کړي او د دې ستونزې د حل لپاره مؤثرې لارې چارې ومومي. د دې څېړنې ګټې د ځوانانو، کورنیو، او ټولنې نورو برخو ته دا پیغام رسوي چې روږدیتوب څنګه د حافظې او ذهني فعالیتونو کمزورۍ سبب ګرځي. د مخدره موادو کارونې ناوړه پایلې د ټولنې وګړو سره شریکول دا مرسته کوي چې خلک د دې خطرناکې ستونزې څخه ځان وساتي. په ټوله کې د دې څېړنې پایلې د اسلامي نظام، ښوونیزو بنسټونو، او روغتیایي ادارو لپاره د پالیسۍ جوړولو او نشه یي توکو مخنیوي پروګرامونو کې ګټورې دي.

## مواد او کړنلاره

### د څېړنې ځای او وخت

د دې څېړنې نفوس دوه ډلې (سالم او نا سالم) دي. د څېړنې موخې ته په کتو په پرتله یز ډول معلومات په کمي ډول د ننګرهار ۱۷۰ بستریز روغتون له ۸۱ روږدو څخه او همدارنګه، د ننګرهارپوهنتون دښونې او روزنې پوهنځي څلورم ټولګیو ۸۱ سالمو محصلینو څخه د ۱۴۰۳ کال د عقرب میاشتې ۱۰-۱۳ نیټه معلومات د پوښتنلیک په وسیله راټول شوي .

### د څېړنې ډیزاین

د دې څېړنې ډول تو صیفي دی او د موخې له پلوه پرتلیزه څېړنه ده چې له ننګرهار ۱۷۰ بستریزروغتون څخه په هدفمند ډول معلومات راټول شوي. د معلوماتو راټولولو په وخت کې په روغتون کې ۱۲۰ تنه روږدو شتون لرلو خو له ۸۱ روږدو څخه معلومات راټول شول او پاتې نور یې په جدي مراقبت خونه

کې بستر وه چې د هغوي څخه د معلوماتو راټولولو امکان شتون نه لرلو. د ننګرهارپوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځې څلورم ټولګي  محصلین د سالمو افرادو په توګه انتخاب شوي .

**مواد او وسایل**

د حافظې پوښتنلیک د بیلابیلو لیکنو څخه په استفادې د څیړونکو له خوا جوړشوي چې په ترتیب سره څلور برخې لري(لنډ مهاله، اوږد مهاله، تیر مهاله او راتلونکې مهاله حافظه) هره برخه یې څلور پوښتنې لري. دا پوښتنلیک پ لیکرټ سیستم پربنسټ، چې هیڅکله (۱) ډیرکم (۲) ځینې وخت (۳) ډیرزیات (۴) او همیشه (۵) ترتیب شوی. پدې پوښتنلیک کې

ډیرې نمرې د حافظې ضعف او ټیټه نمره د حافظې پیاوړتیا په ګوته کوي.

**احصایوي تحلیل**

ترلاسه شوي معلومات  د  ۲۴SPSS ورژن کې د توصیفي، پرتله یز او مولتي ویریټ ازموینې احصایوي میتودونو په وسیله تحلیل او تجزیه شوي.

**موندنې**

د توصیفي موندونو برخه چې د څیړنې د نمونې فعالیت په اساس د څیړنې دواړو ډلو ته اشاره کوي.

**۱ . جدول دڅیړنې متغیرونو اړوند  د دواړو ډلو منځنې حد او معیاری انحراف نمرې په ګوته کوي.**

| متغیرونه | روږد وګړي | | سالم وګړي | |
|---|---|---|---|---|
| | منځني حد | معیاری انحراف | منځني حد | معیاري انحراف |
| لنډ مهاله حافظه | ۱۳.۱۷۲۸ | ۱.۹۲۲۱۷ | ۷.۲۲۲۲ | ۲.۲۵۸۳۲ |
| اوږد مهاله حافظه | ۱۵.۴۳۱۵ | ۲.۱۶۲۸۲ | ۷.۵۴۳۲ | ۱.۹۰۴۲۷ |
| تیرمهاله حافظه | ۱۳.۹۳۸۳ | ۱.۷۷۰۲۱ | ٦.۴۹۳۸ | ۱.۸۴۴۷۵ |
| راتلونکې مهاله | ۱۴.۲۰۹۹ | ۱.۹۸۵٦۷ | ٦.۲۴٦۹ | ۱.۷۱۴۱۴ |
| عمومي حافظه | ٥٦،۸۰۲۵ | ۴.۵۸۳۷۲ | ۲۷.۵۰٦۲ | ۵.۳۵۷۵۳ |

لومړنې جدول د دواړو ډلو سالمو او روږدو وګړو ترمنځ منځنې او معیاري حد نمرات په ګوته کوي د دې جدول تحلیل دا راپه ګوته کوي چې روږدې وګړې د سالمو وګړو په پرتله د حافظې فعالیتونو په ټولو برخو کې د پام وړ توپیرشتون لري.

**۲.جدول: د ویلکزلمبدا احصایه د حافظې پر برخو باندې د موادو کارول او نه کارول د یو مستقل متغییر په تظر کې نیولو سره تحلیلوي.**

| مولتي ویریت ازمویني | احصایه | F | Dfفرضیه | Dfخطا | معني داري |
|---|---|---|---|---|---|
| تعامل | ویلکز لامبدا | ۳۳۹۲.۹۵ | ۴.۰۰ | ۷۷.۰۰ | ۰،۰۰۱ |

د لامبدا ویلکز پایله (p<۰.۰۰۱ ، f = ۳۳۹۲.۹۵ ) د هغه فرضیو منځنی حد ردوي چې د دواړو ډلو ترمنځ د نشه یي موادو استعمال او نه استعمال په برخه کې توپیر شتون نه لري. اوس د دې لپاره چې و پوهیږو دکوم متغیر ترمنځ توپیر شتون لري د مولتي ویریټ ازموینې د تحلیل څخه کاراخلو.

**جدول:۳- جدول: په نشه یي توکو روږدو او سالمو وګړو ترمنځ د حافظې بېلابېلو برخو لپاره د مولتي ویریټ از موینې.**

| ترلي متغیرونه | مجموعي مجذورات | ازادي درجه | د مجذوراتو میانګین | F | معنی داره سطحه |
|---|---|---|---|---|---|
| لنډ مهاله حافظه | ۱۴۰۵۵.۴۲ | ۱ | ۱۴۰۵۵.۴۲ | ۳۸۰۴.۱۵ | ۰.۰۰۱ |
| اوږد مهاله حافظه | ۱۹۴۱۳.۷۷ | ۱ | ۱۹۴۱۳.۷۷ | ۴۱۵۰.۲۱ | ۰.۰۰۱ |
| تیرمهاله حافظه | ۱۵۷۳٦.۳۰ | ۱ | ۱۵۷۳٦.۳۰ | ۵۰۲۱.۷۳ | ۰.۰۰۱ |
| راتلونکي مهاله حافظه | ۱٦۳۵۵.۵٦ | ۱ | ۱٦۳۵۵.۵٦ | ۴۱۴۸.۱۰ | ۰.۰۰۱ |
| عمومی حافظه | ۲٦۱۳۴۸.۱٦ | ۱ | ۲٦۱۳۴۸.۱٦ | ۱۲۴۳۸.۹۳ | ۰.۰۰۱ |

لکه څرنګه چې په دوهم جدول کې معلومېږي چې د روږدو او سالمو وګړو د میانګین نمراتو ترمنځ د حافظې په فعالیتونو لکه لنډ مهاله، اوږد مهاله، تیرمهاله، راتلونکې مهاله برخو کې د پام وړ معنی دار توپیرونه شتون لري. د لومړي جدول دنمراتو ته په پام کې نیولوسره کولای شو چې دا نتیجه واخلو چې د لومړي جدول نمري د سالمو وګړو په ګټه پای ته رسیږي.

## مناقشه

د دې څېړنې پایلې په ډاګه کوي چې د روږدو وګړو عمومي حافظه د سالمو وګړو په پرتله د پام وړ زیانمنه شوې ده. د احمد علیپر او همکارانو (۱۳۹۴) څېړنه چې د سالمو او روږدو وګړو د کاري حافظې پرتله کوي، دا تاییدوي چې روږدي وګړي په فعاله او اوربډونکي حافظه کې زیات اختلال لري. همدارنګه، د عبدالمحمدي او همکارانو (۲۰۰۹) څېړنه هم ښیي چې روږدي وګړي د حافظې په فعالیتونو کې د پام وړ ټیټ فعالیت لري.

د دې څېړنې پایلې د لنډمهاله حافظه اړوند ښیي چې د نشه‌یي توکو استعمال د لنډمهاله حافظې په فعالیت کې جدي اغیزې لري. دا پایلې د ترونسون او ټیلور (۲۰۱۳) څېړنې سره سمون لري، کومه چې وايي روږدي وګړي په لنډمهاله حافظه کې د اختلالاتو سره مخ دي. په هر حال، د دې څېړنې موندنې د چرسو د اغېزو په اړه د (ډویډ او ملګري، ۲۰۲۳)

څېړنو سره موافقت لري، کومې چې څرګندوي چې چرسو د لنډمهاله حافظې فعالیت کې دايمي ستونزې رامنځته کوي. شايد دليل يې داو ي چې لنډمهاله حافظه د مغز په هغو برخو تکيه کوي چې د ډوپامين سيستم اغېزې لاندې راولي، کوم چې د نشه‌يي توکو له امله زيانمنېږي.

د دې څېړنې پايله ښيي چې د اوږدمهاله حافظې فعاليت د سالمو وګړو په پرتله په روږدو وګړو کې زيانمن شوی. دا پايله د پائو او همکارانو (۲۰۰۴) څېړنو ملاتړ کوي، چې وايي د نشه‌يي توکو کارونکي د اوږدمهاله حافظې په برخه کې د کليماتو د کود کولو او يادولو ستونزې لري. همدارنګه، د لتوا (۲۰۱۱) څېړنه هم ورته پايلې وړاندې کوي چې د ترياکو او هيروينو استعمال د اوږدمهاله حافظې لپاره جدي زيانونه رامنځته کوي. دا منطقي ده ځکه چې اوږدمهاله حافظه د مغز د هيپوکامپ په برخه کې د نشه‌يي توکو له امله د نيوروني حجرو له منځه تلل زيات احتمال لري. له بلې خوا، ځينې څېړنې لکه د بارکر او همکارانو (۲۰۱۱) ښيي چې ځينې روږدي وګړي ممکن د درملنې او مغزي تمرين له لارې په اوږدمهاله حافظه کې ښه‌والی تجربه کړي، چې دا د مغز ارتجاعي خاصيت پر اهميت ټينګار کوي.

د تيرمهاله حافظې په برخه کې دا څېړنه څرګندوي چې روږدي وګړي د سالمو په پرتله د تېرو پېښو او معلوماتو په يادولو کې د پام وړ ستونزې لري. دا پايله د (موري او امايا، ۲۰۲۴)څېړنې سره سمون لري، چې وايي د چرسو او هيروينو استعمال تېرمهاله حافظه اغېزمنوي او د تېرو پېښو په يادولو کې ستونزې رامنځته کوي. سربېره پر دې، د سولوويچ او باتيستی (۲۰۰۸) څېړنه د دې ملاتړ کوي چې نشه‌يي توکي د معلوماتو د کوډ کولو او بيا راټولولو وړتيا کمزورې کوي. دليل شايد دا وي چې تېرمها له حافظه د هغو پېښو او معلوماتو په بيا راژوندي کولو پورې تړلې ده چې د مغز په نيورونيک اړيکو کې ذخيره شوي وي، او نشه‌يي توکي دغه اړيکې کمزورې کوي .

په څېړنه کې څرګنده شوې چې د نشه‌يي توکو استعمال د راتلونکې مهاله حافظې په فعاليت کې جدي اختلال رامنځته کوي. دا موندنه (ډويډ او ملګري، ۲۰۲۳)

څېړنو سره مطابقت لري. شايد د نشه‌يي توکو دوامداره استعمال د خلکو پلان جوړونه او د راتلونکې لپاره زده کړل شوي مهارتونه زيانمن کړي چې دا په ورځني ژوند کې د روږدو وګړو د ستونزو او ناکاميو لامل کېږي.

**پايله**

د دې څېړنې پايلې په ډاګه کوي چې د نشه‌يي توکو دوامداره استعمال د حافظې په فعاليت کې د پام وړ زيانونه رامنځته کوي. هغه کسان چې په نشه‌يي توکو روږدي دي، د حافظې په ټولو ډولونو

(لنډمهاله، اوږدمهاله، تېرمهاله، او راتلونکې مهاله) کې د سالمو وګړو په پرتله د فعالیت جدي کمښت لري. دا زیانونه د مغز په نیورونونو او اجرائیه برخو کې د نشه‌یي توکو د مستقیمو اغېزو له امله رامنځته کېږي، چې په ځانګړي ډول د حافظې په کوډ کولو، ذخیره کولو او بیا راپېولولو کې اختلالات رامنځته کوي. دا پایلې د دې اړتیا په ګوته کوي چې د روږدو کسانو د درملنې ترڅنګ، د نشه‌یي توکو د زیانونو په اړه پوهاوی زیات شي ترڅو د ځوانانو په منځ کې د دې ستونزې مخه ونیول شي.

**محدودیتونه**

۱ :د غه څېړنه یواځې په ننګرهار ولایت کې ترسره شوي چې پایله یې ټول هیواد ته عمومي کیدای نه شي .

۲ :دغه څېړنه یواځې پر بستر شویو روږدو کسانو ترسره شوي چې ټولو روږدو وضعیت نه شي اندازه کولې. همدارنګه په دې څېړنه کې سالم وګړي هم پوهنتون د یوپوهنځي محصلین وه چې دا دټول پوهنتون او عامو وګړو حالت نشي منعکس کولې.

۳ :د دې څېړنې د معلوماتو راټولولپاره یواځې یو ډول وسیله یعني پوښتنلیک کارول شوی چې شونې ده د ټولو معلوماتو د توضیح او تبین وړ نه وي .

**سپارښتنې**

 همدې ته ورته څېړنې د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم ترسره شې او پایلې یې له دې څېړنې سره پرتله شي.

- ✓ اسلامي امارت دې د نشه‌یي توکو د تولید، قاچاق او استعمال مخنیوي لپاره اغېزمن قوانین جوړ او عملي کړئ .
- ✓ اسلامي امارت دې د روږدو کسانو لپاره وړیا او پرمختللي درملنې مرکزونه جوړ کړئ .
- ✓ ښوونیزې اداري دې د ځوانانو پوهاوي لپاره تعلیمي نصاب کې د نشه‌يي توکو د زیانونو موضوع شامله کړئ.
- ✓ ښوونیزې اداري دې د زده‌کوونکو لپاره د نشه‌یي توکو زیانونو اړوند روزنیز او مشورتي پروګرامونه تنظیم کړئ.
- ✓ روغتیا سکتورونه دې د روږدو کسانو لپاره ځانګړي روغتیایي خدمات او مشورې برابرې کړئ.

✓ کورنی دې له خپلو ماشومانو سره د نشه‌يي توکو د زيانونو په اړه خبرې وکړئ او د دوی چلند ته پام وکړئ.

✓ د ټولنې عالمان/مشران د عامه پوهاوي کمپاينونه ترسره کړئ ترڅو د نشه‌يي توکو د زيانونو په اړه خلک وپوهيږي.

**اخځليکونه**


عبدالمحمدی،کريم..احمدی،عزت الله..غديری صرمان آبادی..محمد زاده،علی او يوسف زاده، باقر.(۱۳۹۸).مقا يسه عملکرد حافظه در افراد سالم وه وابسته به مواد. روش روانشناسي سال ۸، شماره ۵، شماره پیاپی ۳۸.

عليپور، احمد.، قرباني، طاهره و فرزاد، ولي الله. (۱۳۹۴). تفاوت هاي نمايه حافظا فعال، حافظه فعال شنيداري، حافظا فعال فضايي در سوء مصرف کنندگان مواد مخدر، مواد محرك، تحت درمان متادون و افراد بهنجار. فصلنامه اعتياد پژوهی سوء مصرف مواد، سال ۹، شماره ۳۳.

Asghari, M., Dezhkam, M., & Azadfallah, P. (2009). Comparison of Neuropsychological Functions (reaction Time) in Addicts and Normal People. Foundations of Education, 10.(1)

Caetano, T., Pinho, M. S., Ramadas, E., Lopes, J., Areosa, T., Ferreira, D., & Dixe, M. D. A. (2023). Substance abuse and susceptibility to false memory formation: a systematic review and meta-analysis. Frontiers in psychology, 14, 1176564 .

David, I., Wegner, L., & Majee, W. (2023). "We want to see youth that would be better people than us": A case report on addressing adolescent substance use in rural South Africa. International Journal of Environmental Research and Public Health, 20(4), 3493.

Galanter, M. (2006). Innovations: alcohol & drug abuse: spirituality in Alcoholics Anonymous: a valuable adjunct to psychiatric services. Psychiatric services, 57(3), 307-309.

Khalatbari, J., & Bazarganiyan, N. (2011). Comparison the depression, anxiety and stress in intravenous drug abusers, with and without HIV/AIDS. Journal of Guilan University of Medical Sciences, 20(78), 76-83

Laera, G., Joly-Burra, E., Zuber, S., Ballhausen, N., Künzi, M., Ihle, A., ... & Hering, A. (2023). Do executive functions explain older adults' health-related quality of life beyond event-based prospective memory?. Aging, Neuropsychology, and Cognition, 30(2), 135-149.

Latvala, A. (2011). Cognitive functioning in alcohol and other substance use disorders in young adulthood: A genetic epidemiological study.

Lundqvist, T. (2005). Cognitive consequences of cannabis use: comparison with abuse of stimulants and heroin with regard to attention, memory and executive functions. Pharmacology Biochemistry and Behavior, 81(2), 319-330

Miliano, C., Serpelloni, G., Rimondo, C., Mereu, M., Marti, M., & De Luca, M. A. (2016). Neuropharmacology of new psychoactive substances (NPS): focus on the rewarding and reinforcing properties of cannabimimetics and amphetamine-like stimulants. Frontiers in neuroscience, 10, 153

Murray, S., & Amaya, S. (2024). The strategic allocation theory of vigilance. Wiley Interdisciplinary Reviews: Cognitive Science, e1693.

Noel, X., Brevers, D., & Bechara, A. (2013). A neurocognitive approach to understanding the neurobiology of addiction. Current opinion in neurobiology, 23(4), 632-638.

Solowij, N., & Battisti, R. (2008). The chronic effects of cannabis on memory in humans: a review. Current drug abuse reviews, 1(1), 81-98.

Tian, Y., Wang, D., Fan, F., Yang, Y., Fu, F., Wei, D., ... & Zhang, X. (2022). Differences in cognitive deficits in patients with methamphetamine and heroin use disorder compared with healthy controls in a Chinese Han population. Progress in Neuro-Psychopharmacology and Biological Psychiatry, 117, 110543.

Wandner, L. D., Domenichiello, A. F., Beierlein, J., Pogorzala, L., Aquino, G., Siddons, A., ... & Institute, N. P. C. (2022). NIH's Helping to End Addiction Long-termSM Initiative (NIH HEAL Initiative) Clinical Pain Management Common Data Element Program. The Journal of Pain, 23(3), 370-378.

Whittaker, A. L., George, R. P., & O'Malley, L. (2022). Prevalence of cognitive impairment following chemotherapy treatment for breast cancer: a systematic review and meta-analysis. Scientific reports, 12(1), 2135.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal


| Volume:2 | Issue: 2 | Year:1404 |
| --- | --- | --- |